# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم*


**www.afgazad.com**          **afgazad@gmail.com**

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



انجنیر سید مختار دریا

۱۹ جنوری ۲۰۱۹




## د وحـــدت چغـــه

پــر مـا گـــرانـــه وطـنـــه مجـرمان راغلـــی دی          دشمـــن دانسـانیـــت لـکـــه حیـــوان راغلـــی دی
د (ضحـاک) او د (نـــرون ) قصـــه ورک شـــوه          له داسی ظلم او ستم چه پر افغان راغلـــی دی
بـــی غیـرتـــه بـــی همـت پـه تـــوره تیـاره کـی          کــټ مـــټ دغلیـــم چــاکـــران راغلـــی دی
کـــونـــدی او مـاشـــومان پـــه مینـــه دوپ شـــو          ځنـګـــه دا قضـــا و قـــدر پـر افغـان راغلـــی دی
دجنت د پـــاره تـلـل انتحـاری سـری اغـوستـی          د دیـــو بـنـــد نـــه بـی ایمـان چلیـان راغلـــی دی
وینـــه بهیـژی پـه کـوڅـه کـوڅـه د وطـن ولـــی؟          لویه خدایه ځنګه دا مصیبت پرافغان راغلی دی؟
دومـره وینـــه چه تـوی شـوی خدایـــه بس نـــدی؟          چه قاتـل د وطـن معصوم ماشـومان راغلـــی دی
چـالـــه پـــه لاس دی دا قـصـــاب ای وطـنـــوالـــو          نه پـوهـیـژی چه دا چاله له پاکستان راغلـــی دی؟
خـنـــدا ورک شـــوه د شـــونـــدو ای وطـنـــوالـــو          ګوره د سعودی او دانګلیس نه غلامان راغلی دی
غلیمـــه پـــوه شـــه چـه داســـی ورځ بـــه راشـــی          چه ګوری له هر ګوټ غښتلی ځلمیان راغلی دی
د وحـــدت بـــه لاس د فخـــر بیـــرق اوچـــت شـــوی          ګوره چه لـــه هر ګوټ ویش ځـوانان راغلـــی دی
دریـــا ویـــالـــی دستـــا چـغـــه او یـــو والـــی          چه پر غلیم پـــه هر ګوټ لکه طوفان راغلـــی دی

**دنارسا پښتو ژبه می  د ټول پښتانه وطنوالو نه بخنه غواړم**

"مختار دریا" ۳ جون کانادا ۲۰۱۷